مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبد الباري جهاني

۲۰۱۹/۰۵/۱۴

# يوه ورځ

**يوه ورځ به په وطن کي چي تېر سوي وي کلونه**
**چي اسمان پر شنه اورغوي اړولي وي قرنونه**

**د غازي کيسه وي ختمه د شهيد کيسه وي هېره**
**نه به وژني سره ورونه نه تربور به وي قومونه**

**پښتني به پر اوترو سترګو نه ګرځوي اوښکي**
**سينګار کړي به يې نه وي د پرديو ګودرونه**

**نه به لاس په وينو سور وي نه به ژوند چاته تنور وي**
**نه به توري د باتورو غوځوي د چا سرونه**

**د قاضي آواز به نه وي د قدرت او زور له ستوني**
**زموږ تر کوره به هم راسي د خالق عدالتونه**

**د ملوک ښېلی به نه وړي کوه قاف ته پښي تناکي**
**له نيکه سره به نه وي په اغزيو کي نکلونه**

**نه به ميني شهيديږي نه  به نظم وي په وينو**
**نه لانده به وي تر مرګه د ابيو ګريوانونه**

**د پښتو هره غزل به انارګل او نارنج ګل وي**
**غاړګی د مستو پيغلو د لونګو امېلونه**

**نوم به ورک د جهاني وي د زمان تر دوړو لاندي**
**ځوان شاعر به وي راوړي په لمن کي غزلونه.**

د ۲۰۱۹ کال د مي د مياشتي يوولسمه ويرجينيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ